محمد ایـاز نـوري
۲۰۱۵/ ۱۲/ ۱۳

# د ښوونځي د وخت یادونه

هغه وخت زمونږ د هستوګنې کور زما د مرحوم پلار د دولتي دندې اړوند د ګران افغانستان د کابل ښار جنوب ته د قلعچه په سیمه کې، چې اصلاً د وخت د حاکم خاندان په سر کي اعلیحضرت ظاهرشاه د ښکار ځای د قلعه حشمت خان سره تړلي د (کول مرغابی) په نوم مشهوره وه، موقعیت درلود. هغه وخت د څلویښتمي لسیزې نیمایي یعنی ۱۳۴۵ل کال وه. زما پلار د ډګروال په دریمه رتبه د شاهي دولت د ملي دفاع وزارت د دیوان حرب د ریاست مرستیال وه. هغه یو مستعمل هندي بایسکل درلود او د هغه په واسطه به خپلي دندې ته تلو او راتلو. ښه مي په یاد دي، د ۱۳۴۵ل کال د کب (حوت) د میاشتي ۱۵ نېټه وه.

هوا وریېځه او یو برابر وربښت هم شوی او ځمکه خټه غوندي وه. په هغه پرون بیګاه یي زما پلار ماته وویل، ایازه! ته اوه کلن شولي، سبا دي مکتب ته اچوم...!! ما پلار ته وویل: مکتب ؟؟ هغه وویل، هو! ته به هلته سبق وایې. په سبا سهار مورمي ماته یو شین رنګه پطلون راواغوست او یو پشتکي بکس، یو خود کار قلم او دوه د لیکلو لپاره کتابچې یي ورسره ضمیمه کړې. پلار مي عسکري دریشي واغوستله او د خپل بایسکل سره یو ځای پیاده سره روان شولو.د ښوونځي موقعیت د شاه شهید سیمه د کابل د تاریخي بالاحصار ختیځ ته وه.دا ښوونځي د (مکتب ابتداییه شاه شهید) په نوم یادېده. ښوونځي ته په ننوتو زما پلار د سرمعلم اداري ته ورغی.

سرمعلم صاحب یو ښکلی ملبس په دریشي او نیکټایي د ۴۰ کالو په عمرسړی او زما پلار پس له روغبړ نه ورته وویل، دا زما زوی دئ، ستاسو سره به دلته مکتب پیل کړي. دا یي پېړند پانه (تذکره) ده. جناب په درنښت سره زما پلار ته خپل اجراعات وکړل او زه یي د یوه بل معلم صاحب په بدرګه د (اول هې) ټولګي ته بوتلم، پلار مي پخپله مهربانه موسکا راته وویل، بچې، زه ځم وزارت ته، یوه افغاني روپۍ یي راکړه، ماته لږ ژړا راغله، پلار پسي مي کتل، تر څو مي چې له سترګو غایب شو.

په ټولګي کي مونږ ټول ۲۵ کسان وو، درې زمونږ افغاني خوراني وې او په لومړي کتار کي کیناستلي. د ټولګي نګران هم یو پی مخی ځوان شاغلی حیات الله خان نومیده او مهربان کس وه. هغه ورځ ماته هر څه عجیبه معلومیدل، ما ځان سره ویل، مکتب یعنی د څه لپاره، زه دلته ولي راغلی یم. نه زه بیرته کورته ځم. معلم صاحب راغی، کفتان ناري کړې، ولاړ سی!، شاګردان ودرېدل، زه هم ودرېدم. معلم صاحب وویل: کشینی. کله، چي معلم صاحب په توره تخته د الفبا لیکل او مونږ ته یي پخپلو کتابچو کي د لیکلو دستور راکړ، زه پوی شوم، چي دلته د زده کړې ځای دئ.

په دې لومړی اونی کي زه د: معلم صاحب، نګران صنف، تباشیر، تخته، قلم پنسل، کتاب حاضری، کپتان صنف،وخت تفریح، زنګ مکتب، کانتین، وخت رخصتی او داسی نورو کلماتو سره آشنا شولم. لیکن پس له دغه لومړی اونی هغه څه، چې ماته دردمند معلومېدل، په ټولګي کي د زده کوونکي د فزیکي وهلو او جزاء ورکولو لپاره د یوه لرګي موجودیت وه. ما دغه لرګي ته کتل او فکر مي کاوه، چي شاید معلم صاحب مونږ پر دې لرګي یوازې وډار کړي، خو کله، چي ما مخامخ ولیدل، چي نګران صاحب یا معلم صاحب یو شاګرد د شور ماشور له کبله، د ناسوب والي له کبله د سبق د نه ویلو او د کورني وظیفي د نه راوړلو له وجهي په پوره قهرجن مخ، یو ټولګي وال ته ویل: لاس دي ونیسه! او بیا شه کلک په هغه لرګي وهلو او د شاګرد ژړا او عذر معلم صاحب ته لکه یو برده او بادار، دا وضعیت ماته د ښوونځي او د زده کړې نه یوه کرکه را پیدا کوله.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

ما تر شپږم ټولګي پورې په دې لومړني ښوونځي کي تحصیل تعقیب کړ. په ټولو مضامینو کي د قران شریف د درس ساعت کي به ټول هلکان وارخطا ول. یو خو عربي ژبه اکثرو ته په تېره د تلفظ په خاطر مشکله وه او بل دا چې زمونږ د قران استاذ یو ګیره ور یو ظالم انسان وه، نوم یې رانه هېر شوی، خو سپینه لونګۍ او کوزه به یې لوکسه دریشي په تن وه او همیشه به یې د میز پر سر لرګی موجود وه. دا لرګی د نمایش لپاره نه وه. مولوي صاحب به، چې په قهر شو بیا د شاګرد بدن ځای یې نه کوت او د شاګرد په سر او ټول بدن به یې شدید وارونه کول. مونږ په دې ښوونځي کي درس په دری ژبه لوست او یوازې په اونۍ کي دوه ساعته مو د پښتو ژبې لوست تعقیب کاوه. په دې پړاو د زده کړه کي زه د «کفپایي ورداریش» د قوماندې سره هم آشنا شولم.

زمونږ د مکتب مرستیال شاغلی احمد شاه خان نومیده، هلکانو به ویل: خانی احمد شاه خان ده بی مارو (بی بی مهرو) اس. شني سترګي او قوي هیکله یو سړی وه. کله به، چې یو شاګرد په لوی جنایت یعنی غیرحاضری نیول شوی وه، نو د ښوونځي غولي ته بې راوست، بوټونه به یې ورنه وباسل، اکثرأ به مرستیال صاحب احمد شاه خان د مکتب د اداري نه ووت او په یوه تکبر به دې بدبخته شاګرد ته راغی. د مکتب چپراسي ته به یې وویل: پاهایش را محکم بگیر، د یوه لرګي پر ځای به څو لرګي راوړل شول او احمد شاه خان به په وهلو پیل وکړ، شاګرد به چیغې وهلې او عذر به یې کاوه، لیکن وهلو به دوام کاوه. د ټولو صنفونو شاګردانو به دا صحنه کتله او حیران به پاتې ول. زه لیکونکی پخپل آزاد منطق او قضاوت معاون صاحب احمد شاه خان هم نه ملامت کوم.

دا مکتب زمونږ د شاهي ارګ په درې کیلو متری کي یعنی د اعلیحضرت د ګیرې لاندې واقع وه. اصل د پوشتني او مسوول ځای هغه ارګ وه. احمد شاه خان د دغه حاکم کرغېړن او ظالم حاکم سیستم محصول وه. یو وخت ما خپل پلار ته وویل: دا د شاه شهید په مکتب کي ډېر وهل دي، ما د شیوکیو لیسي ته تبدیل کړه، پلار به زه تسلي کولم، چې خیر بچیه، همدلته دوام ورکړه.

د ۱۳۴۷ او ۱۳۴۸ ل کلونه ول، اقتصادي فقرخپل اوج ته رسیدلی وه، د کابل ښار د ښوونځیو زده کوونکي به د شاهي دولت پر ضد سړکونو ته راوتل او مظاهرې به یې کولې. هغوی ټول افغانان او د تاریخي افغانستان بچیان او ساتونکي ول. یوه ورځ، چې زه په پنځم ټولګي کي ناست وم، شورماشورشو او د شپږمو صنفونو هلکان له خونو راوتل او په لوړ آواز یې نورو ته وویل: بیایین، مظاهره میکنیم...!!

مونږ د مکتب د ودانۍ نه بهر راووتلو. په دې وخت کي د شیوکیو د لیسي د شاګردانو مظاهره د ټانګ لوګر نقطي ته رارسیدلي وه. دا لومړی ځل وه، چې ما لیکونکي پخپلو سترګو (مظاهره) ولیدله. دا شاګردان په ډېر قهر اوغضب د حضوري چمن په استقامت روان ول. یو وار یو شمېر کسانو یې یو شاګرد پخپلو اوږو سپور کړ، دغه محصل په زوره نارې کړې: ما مردم فقیر زر و سیم نداریم! بیا دې نورو ملګرو یې لاسونه پورته کړل او وې ویل: از کسی بیم نداریم...! ، مرګ به ظاهر کل! مرګ به ظاهرشاه...!! زه او زما ملګري بیا بېرته خپل ښوونځي ته راننوتلو. په دې وخت وضع متشنجه وه. مونږ ته د اداري له خواء امر وشو، چې هر صنف دې د مکتب په غولي کي ودرېږو. بیا زمونږ د مشق او خط استاذ، چې حسین خان نومیده، پاس د اداري په برنډه کي راودرېد او د عذر او خواهش په لهجه یې مونږ ته وویل:

بچهایم! ؟؟مه دری مکتب ۲۳ سال معلمی کدیم، اګه مه ګفتم، مظاهره کونین، بروید مظاهره کنید، اګه مه ګفتم که مظاهره نکونین پس مظاهره نکنین...!!؟؟ هلکانو په آهو یا هو او په ریشخند خپل د رد غبرګون وښود. کله، چې د رخصتي اعلان وشو، د شپږمو ټولګیو هلکانو بو بل ته ویل: ای حسین خان از چاپلوس های ظاهرشاه اس... ما ره میګه مظاهره نکنین.. واه واه!!

کله،چې زه کورته راغلم، دا د سترګو لیدلای حال مې خپل مشر ورور ته، چې ۲۱ کلن او په هیڅ سیاسي حرکت کي شامل نه وه، او نشو، بیان کړ. هغه ماته وویل: ؟؟ګوره ایازه، دا خلک مجبوردي، چیغې وهي، دا خلک وږي دي، خلک نا راضه دي، دوی ترقي او آبادي غواړي. دا اعلیحضرت د خلکو د ښه ژوند لپاره کارنه کوي، خپله

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دئ او کور يې او څو کسه پلويان يې په عياشي کې ډوب دي، ګوره زمونږ پلار يو جګپوړی صاحب منصب ده، ليکن مونږ تاسو يو فقير ژوند لرو. په نس سم ماړه نه يو... اوس ته فکر وکړه، دغه د نورو خلکو به کوم حال وي؟؟ دا حکومت ملامت ده، خلک ملامت نه دي.؛؛

دا خبرو به پرما ډېر تاثير کاوه او د وخت د ټولواک المتوکل علی الله اعليحضرت محمد ظاهرشاه نوم ته به مې لويه سواليه کېښودله. پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ